# ستوري مجله شپږمه ګڼه
# ۲۰۰۹ ع کال




# Stori Magazine 6th Issue
# July-August 2009

## غزل

**طاهر فرهاد**

پوخ شومه ستي شوم د لمبو سره اشنا شومه
ستا په محبت کې د سلگو سره اشنا شومه
چې شومه زخمي شوم تا وېشتلی په گوگل یمه
ځکه ستا د غشي او لېندو سره اشنا شومه
مینه کې منصور شوم د دارونو پروانه لرم
ستا د زلفو دار کې د ټالو سره اشنا شومه
زړه مې اوس له تانه گیله نه کوي سنگین شومه
ستا لکه د زهرو خاطرو سره اشنا شومه
ترخې لږې ناصحه ستا خبرې که خوږې وکړې
زه چې د جانان ترخو ترخو سره اشنا شومه
اوس مې ډوبوی نه شي فرهاده د بېلتون ځپې
د مینې سمندر کې د چپو سره اشنا شومه

***

## غزل

**سید عبیدالله نادر**

ستا په غم چې مبتلا شوم
له راحت ځنې جلا شوم
چې مې سر په محبت شو
په بازار کوڅو رسوا شوم
ستا د مینې مدرسې کې
د دردو سره اشنا شوم
رغبدل اوس زما نشته
گرفتار په دې بلا شوم
له ازله مې قسمت و
چې غمو سره پیدا شوم
اندېښنو سره مې کار شو
چې په تا باندې شېدا شوم

***

## غزل

**گل محمد بېتاب**

گل خو څه چې ازغي هم په بیه اخلم
لېونی یم ځانله غم په بیه اخلم
د گلابو په وطن کې دومره قحط شو!
چې گلونه د شړشم په بیه اخلم
هر سړی وایي ټوپک پرې ولې نه اخلې؟
چې کتاب او یا قلم په بیه اخلم
سرمایه او اثاثه به زما څه وي؟
چې اوړه کله غنم په بیه اخلم
د گرانۍ خبره دې حد له راغلې
پخپل کور کې هر قدم په بیه اخلم
د یوسف د خریدارو غوندې نه یم
که څه اخلم بیا یې سم په بیه اخلم
ناکردې دې د برداشت په پولو اوړي
مجبوري ده ورله غم په بیه اخلم
چا وی ټول تاریخ به وران کړم ما وی څنگه؟
وې یو څو اهل قلم په بیه اخلم

## غزل

**عبدالغفور باخبر**

دا دی جنگ د شخصي گټو
دغه جنگ د اسلام نه دی
دا په موږ باندې تحمیل دی
جنگ خو کار د انسان نه دی
هر سړی د ځان په غم کې
څوک د چا په خفگان نه دی
موږ د نورو په خدمت کې
دا خو کار د افغان نه دی
دا چې خپل وطن مو وران کړ
دا زموږ په تاوان نه دی؟
راشئ خپل وطن اباد کړو
دا زموږ لوی ارمان نه دی
اوس زموږ په کلتور باندې
دا یرغل د ایران نه دی؟





## لېونی

**اصف میاخېل**

دا زه به لېونی یم که جانان دی لېونی
بس هر څوک لېوني دي ټول جهان دی لېونی
سپېرې سپېرې خبرې د انکار تر ېنه راوځي
دلبر اوس لېونی شو که پېزوان دی لېونی
پخپله چې د عمر هتکړیو کې ځان بند کړي
نو خلک لېوني دي که زندان دی لېونی
دا هر یو لېونی د غنمرنگو لېونی دی
د مینې په کوڅو کې هر انسان دی لېونی
دا شوم نظر د یار چې مې دې زړه ته کله راشي
امید مې لېونی شي هم ارمان دی لېونی
دا توري د غزل د یار له شونډو نه رااخلم
دا توري لېوني دي که مې ځان دی لېونی
د مینې فلسفه کې دا ته څه وایې میاخېله
د مینې فلسفه کې غني خان دی لېونی

***

## غزل

**عصمت الله ملنگ**

اوښکه راته ډمه شي لېمو کې راته وناځي
وینې د زخمي زړه پرهرو کې راته وناځي
خیال کې راته راشي اشنا ستا دا لېونی مینه
شم ورته په چغو درد سلگو کې راته وناځي
ستره ښاپېرۍ شوه اوس د کوره بهر نه وځي
سترگو اشارې پټې ښو کې راته وناځي
زه ورته نغمه د مینې زړه شپېلۍ کې سُر کړمه
مسته لېونۍ شي خیال زانگو کې راته وناځي
عصمت د ذهن کور کې گرځوي تصویر د حسن
کله به رښتیا رنگینو شپو کې راته وناځي

***

## غزل

**سلطان محمود سالمزی**

د زړه گلاب مې پاڼې پاڼې شولو
بې گناه وسومه سور اور جانانه
دا کوم انصاف دی چې مې دار ته بیایي
اخیر مجرم یم په کوم تور جانانه
ستا محبت کې سودایي شوم اشنا
شورانه پاتې کلی کور جانانه
ټوله دنیا راته سور اور ښکارېږي
راته معلوم شو د عشق زور جانانه
زما زخمي زړه ته ملهم شه راشه
کړمه غمونو سوی سکور جانانه
"سالمزی" وایي نور د خدای لپاره
شوم د اغیارو د پېغور جانانه

***

## نیمگړې دنیا

**محمد ابراهیم حقمل**

پاتې هر چانه ده نیمگړې دنیا
سترې ستومانه ده نیمگړې دنیا
راځه چې یو بل سره مینه وکړو
بس پرېشانه ده نیمگړې دنیا
بیا خو به دا وختونه نه وي یاره
اخر روانه ده نیمگړې دنیا
چې مینه نه وي نو خندلی نشي
ډکه ژړانه ده نیمگړې دنیا
ته چې مدام مانه خپه گرځېږې
خوږه جانانه ده نیمگړې دنیا
تا چې د کلي نه رخصت واخیسته
اوس بې له تانه ده نیمگړې دنیا
حقمل صافیه ته ترې اوس خبر شوې
دا د پخوانه ده نیمگړې دنیا





خیر محمد زهیر اسماری

## مرثیه

**د خپل محترم تره شیر محمد بهیر اسماري د مړینې په غملړلې پېښه**

د وطن د مور په غېږ کې سترې ستوی له شوگیره
د آبد په خوب ویده شوې روح دې ښاد اوسه بهیره

ته ددې وطن او خلکو د رنځونو ترجمان وې
ته شاعر وې ته لیکوال وې د ټپي زړونو درمان وې
ته د مینې محبت او د وفا په لار روان وې
ته یو ښکلی او رنگین گل د ادب د گلستان وې

د پښتو د غزل ناوې د رپسې ښکاري دلگیره
د ابد په خوب ویده شوې روح دې ښاد اوسه بهیره

ستا جسد له دنیا لاړو خو نامه به دې ژوندۍ وي
مرگ دې نه شي ورکولی څو چې ژوند په دې نړۍ وي
هر یو نظم هر غزل به دې جوگه د زندگۍ وي
هر محفل کې به خبرې ستا د ژوند او شاعرۍ وي

کتابونه به دې چاپ شي د "خاطر" د حال تصویره
د آبد په خوب ویده شوې روح دې ښاد اوسه بهیره





زه چې ژاړمه نو ژاړم دې نیمگړي ارمانونه
درنه پاتې شو ناچاپه کتاب "سترې شوگیرونه"
"لوڅې پښې اغزنې لارې" دې گالل د ژوند مزلونه
غملړلې دې لیکلي په خپل ژوند باندې شعرونه

هر ارمان دې و نیمگړی هره هیله دې زهیره
د ابد په خوب ویده شوې روح دې ښاد اوسه بهیره

تا د هر منزل په لار کې په شا تگ منلی نه دی
تا د ژوند هره تنگسه کې خپل همت بایللی نه دی
تا د ستونځو په گاللو کې خپل زغم هېر کړی نه دی
تا هېڅ وخت غېر له الله نه چا ته سر ټیټ کړی نه دی

ژوند دې ډک له افتخار و له اول نه تر اخیره
د ابد په خوب ویده شوې روح دې ښاد اوسه بهیره

***

## پېښور

شور، اور او لوگی په پېښور کې دی
بیا مو هم زړگی په پېښور کې دی
یو خوا ته ژوندون روان په منډه دی
بل خوا ته مرگی په پېښور کې دی

"زبیر حسرت"



مونږ غوښتنه کوو چې نړیوال د سیمې او منطقې د ثبات په خاطر په دغه منطقه کې په اقتصادي پروژو پانګونه وکړي

همدارنګه نړیوالې مرستې پرته ددوهم لاس څخه نېغ په نیغه دغه سیمو خلکو وګړو ته ورسیږي. دلته ددې خبرې ذکر په ډاګه کوو چې نړیوال که په نږدې او یا لرې راتلونکې کې پدغه سیمه کې سوله او ثبات راوستل غواړي نو په غیر د پښتنو د فعالې ونډې د اخستنې څخه ممکن نه دي.

زمونږ په اند نا پوهي او بې سوادي بله لویه ستونزه ده چې پدغه سیمه کې تری جنګي ډلې سیاسې ګټه پورته کوي

مونږ غوښتنه کوو چې د ډیورنډ د کرښې دواړو غاړو ته د یو ځانګړي پروګرام او پلان مطابق د ښوونځیو او پوهنتونونو جوړول پیل شي

۷. مونږ وینو چې د ډیورنډ د کرښې دواړو غاړو ته پښتون ملت په پښتو ژبه د رسنیو (میډیا) د کموالې او جګړه مارو ډلو د پراخو تبلیغاتي پروګرامونو په نتیجه کې ډیر خوانان په ناپوهۍ او غیر شعوري ډول جګړه مارو ډلو سره یو ځای کېږي.

مونږ غوښتنه کوو چې ددوئ د ذهنیتونو د روښانه کولو لپاره ددوئ په مورنۍ ژبه) پښتو (راډیوئي، تلویزوني او لیکلي رسنیو ساحه پراخه شي.

۸. مونږ د ټولو جنګې ډلو څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونه سوزول او ورانول او همدارنګه د ټولګټو پروژو د بندولو څخه لاس واخلي

هره ډله چې دغه کار په هرنوم کوي، مونږ ئې د هیواد او پښتون ملت دښمنان بولو.




په درناوی دا پریکړه لیک په بیلابیلو نړیوالو ژبو ژباړل کیږي. ټولو رسنیو، د ملګرو ملتونو سازمان، د ناټو مرکز، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او نورو اړوندو ځانګو ته لیږل کېږي

# غزل

## پیر محمد کاروان

وخت به راځي چې غاښ د زهرو به ښامار نه لري
منصور به ګرځي مستانه ملا به دار نه لري

مارغان دې راشي زموږ لېو کې دې ځالې وکړي
غر مو نښتر نه لري کلي مو چنار نه لري

مینې ګیله په غریو نیولي انداز داسې وکړه:
خلک په خپلو کارو بوخت دي په ما کار نه لري

وخپل تارونه یې سندرو ته زندې جوړېږي
کوم یو رباب چې مطرب نه لري، شاتار نه لري

څنګو ته څنګ ورکړه چې خلک په رڼا پسې مري
د کلي لمر تندر نیولي دی سهار نه لري

راشه ځاروان یې شه کاروان یې کړه د ذوق لېونی
په غرونو سر دی د سندرو ښار ته لار نه لري

***

## مننه او کورودانی

له استاد عمر پاځون څخه یوه نړۍ مننه کوو، چې ددې کېنې په چاپ کې یې سل یورو مرسته کړې ده ښاغلی عمر پاځون فرهنګپاله شخصیت دی، چې اوس په جرمني کې د پردېسۍ شپې تېروي د ستوري اداره ورته یو ځل بیا مننه کوي او د پښتني کولتور د غوړېدا په لار کې یې خدمتونه ستايي

اداره

## د ستوري استازي

| | |
|---|---|
| کابل | استاد عبدالظاهر شکیب |
| ننګرهار | شفیع الله تاند |
| کونړ | نعمت الله کریاب |
| اسمار . | طارق سالارزی |
| لغمان | امین الدین |
| باجوړ | سید اغا میاخېل |
| پېښور | ذبیح شفق |
| جرمني | نسیم ستوری |

## پته:

د کونړ ولایت، د خاص کونړ ولسوالي، د تنر کلی طلایي باندې، د ستوري د خپرونې اداره

کوټوال: 0772931465
حیات 0774322484
کوچوان 0772935377

***

ستوري مجله د هېچا د لیکنې ننګه نه کوي، هرلیکوال ته بویه، چې د خپلې لیکنې سپیناوی پخپله وکړي
ستوري مجله به هغه لیکنې نه خپروي، چې اسلام، هېواد او ملي یووالي ته په زیان تمامېږي

***

# ستوری Stori

## خپلواکه، ادبي او کولتوري خپرونه

*****

د امتیاز څښتن / ذمه وار: د خاص کونړ ادبي او کولتوري ټولنه
مسئوول مدیر: عرفان اللهّٰ کوټوال مرستیال: هدایت اللهّٰ حیات

کتنپلاوی: بصیر بیدار ستوری، محمد داود صدیقي، عصمت اللهّٰ ملنک، فضل الهادي عاصم، میرسلام مجاور، ګلرنګ کوچوان

سلاکاره ډله: څېړنیار وجیه اللهّٰ شپون، څېړندوی عبدالقیوم زاهد مشوانۍ، شفیع اللهّٰ تاند
همکار غړي: رحیم اللهّٰ خان، داود شاه داود، صادق فقیر، رضوان الله شپون

د " ستوري " استازي:
کابل: عبدالظاهر شکیب ننګرهار: شفیع الله تاند
کونړ: نعمت الله کریاب اسمار: طارق سالارزی
لغمان: امین الدین باجوړ: سیداغا میاخیل پېښور: ذبیح شفق
جرمني : نسیم ستوری